قریب الرحمن سیعد ۲۰۱۰/۲/۲۶

# که ولشمر ژاړي نو د ولس دې بیا خداې مل شي

په پښتو کې مشهور متل دې چې وایی ( چې مشر یې عنبر وي نو اختر به یې مازدیګر وي )

په مونږ باندې همدا کانه شوې ده. ځکه دویاړونو ډک افغانستان هره ورځ، هره ګړی او هره ثانیه دداسي داسي ناوړه حالاتـو ښخه تیریږي چي قلمونـه یی د لیک ښخه عـاجـز دي. هـره ورځ دومـره مـرګـوني پیـښې، دومره ناخوالې، دومره غمیزې ... چې عقل ورته حیران او لاسونه ورته په رپیدا راشي.

مونږ د ډیرو غمیزو وروسته د ارزګان د شهیدانو په غمیزه، چې د امریکایي زبرځواک په بربنډه او عقدوي بمباریومنځته راغله او په کې په لسګونو کوچنیانو، چې تر اوسه یې د وطن دښیګڼو له پاره د هیلو کوچنی کوچنی غوټی نه وې خلاصې شوي او تر څنګ یی د هغو میندو چې دخپلو ارمانونو د پوره کولو له پاره د خپلو همدې غوټیو د را غوړیدو په خیالونو کې ډوبې وې او د همداسي نورو بورو او کونډو په ویر باندې لا ګنګس وو، او غوښتل مو څه پرې ولیکو. خود لیکلو په وخت کې به یې دا پوښتنه را ته و دریده چې چاته یې لیکي او چاته یې وایي ؟

یو ولسمشر خداې راکړې چې زور پرې راشي نو په ژړا شی او تر څنګ یې دپارلمان غړي دي چې د خپلې عیاشی او فحاشی په غونډو کې شپه او ورځ سره ورک دي. په لوکسو هوټلونو کې یې دعیاشیو قصې او په ځانګړې توګه د ښځینه و وکیلانو د خپلو ځانو دخرڅلاو داستانونه د انسان وینته را ولاړه وی، که ولسمشر کرزی په خپله د هلمندی اوه کلنې کوچنی عکس په پارلمان کې را ښکاره کوي او ورته ژاړي او وایي چې داد یولسو هغو شهیدانو یواځنی وارثه ده چې ټوله کورنی یی د امریکایي نیواکګرانو لخوا د ترهګر تر نامه لاندې په شهادت رسیدلي، او د پارلمان غړي ورته خاندي نو چاته به یې انسان ولیکي او چاته به وژاړي. په مارجه کې هلمندیان د لوږې له لاسه، د قحط او سرو له لاسه دتباهی او بربادۍ سره مخ دي، امریکایان پرې سپې ور خوشې کوي ... انګلیسان یې په خولو داړي او د ملې اردو تر نامه لاندې د شمال او هزارو ملیشې یې کورونه لوټوي. او د وطن هغه لوښې چې لمریی مخ نه ولیدلي د نیواکګرو په واسطه یی د ټول وجود ښکته پورته لټول کیږي. کوچنیان یې په نیزو سوري کوي او... .

دا غمیزه یواځې پردیو نه ده پیل کړې بلکه «خپلو پردیو» هم په دې اړه هیڅ وخت له لاسه نه دې ورکړې. د خپلو پردیو څخه پوښتنه داده چې د نورو تر څنګ مو عبدالمجید بابې ولې وواژه، ولې دغه څو روڼ اندی لکه د ړندو سترګو اوښکې وژنی، دوې تاسو ته څه ویلي دي ؟ ایا د دوې یواځنې جرم دادې چې دوې په دولتي ارګانو کې کارکوي، په دولتی ارګانو کې ډیر شمیر داسي خلک د خپلو ځانګړیو مجبوریتونو له مخې کار کوی چې هم مجاهد دی، هم وطن دوسته اوهم ولس پاله. نو که دا جرم وي نو بیا خو به ټول ولس مجرم وي، ځکه د دولتي ارګانونو هرکس د ولسي کورنیو او قومونو سره یو ډول نه یو ډول اړیکې لري.

په همدې مې فکر کاوه چې څه ولیکم، او څه ډول عبدالمجید بابې شهید او کورنی ته یې د فرهنګیانو د کهول سره یو ځای خپله د زړه خواله وړاندی کړم. څو ځلې کمپیوټر ته کیناستم ، څو لیکي به مې ولیکلې او بیرته به مې پرې خط را ښکود، چې چاته یې لیکي او چاته یی وایي .

خو د کابل د نن ورځې زړه بوګنونکی ځان وژونکو حملو مې ذهن سره ټول ګډوډ کړ، ځکه دا حملې نه د طالبانو وې او نه د اشغال څخه د افغانستان د خلاصون د ننګیالیو. دا د پاکستان یرغل دی. پاکستان غواړی هند ته په افغانستان کې سزا ورکړې. پوښتنه داده چې پاکستان که د هند سره ډغره وهل غواړي نو هملته په هندکې دې یې ووهي ولې زمونږ ولس وژني . لکه هند



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

یی چي د پاکستان  سره په پاکستان کي وهي همداسي پاکستان هم د خپلو برېڅو په واسطه کولي شي هملته خپل جنګ مخته بوځی. مونږ به اوس  یوځل بیا ددې  شاهد یو چي هند به ددې کابل دحملي بدل په  اسلام اباد کي اخلي ، لکه  په کابل کي چي د هند دسفارت بدل یی په اسلام اباد کي واخست او یا د نورو حملو بدل په لاهور او...کي واخست. خو پاکستان به بیا دخپلو برېڅو له لارې په کابل کي زمونږ د ولس مظلوم وګړی تر ضربي لاندي نیسي.

مونږ  په خپل هیواد کي  د اشغالګرو پر خلاف  د هر ډول  سیاسي  غورزنګ  ملاتړ کوو خو په خپل هیواد کي دپاکستان  او نورو  هیوادو یرغل او  د هغوی دغه بربنډ تیري په هیڅ ډول د زغم وړ نه ګڼو. او دا باید هند او پاکستان ته ډاګیزه شي چي د خپلو دښمنیو او غچ  اخستلو ځاې  یی کابل نه  بلکه ستاسي خپل دهلي او اسلام اباد دې.

ولسمشر ته په ډاګه وایو چي  د ژړا وخت نه دې اوته چي په ژړا شې نو بیا  خو دې  د ولس  خداې مل شی .  اوس د تصمیم نیولو وخت دی. که بهرنیان درته په رښتیا هم اوس مجرم ثابت شوی وي، نو په اړه یی ولس ته په ډاګه  ووایه، ټول ولس به دې ترڅنګ  وی او که چیرې شهادت دې په برخه شو نو د وطن ویاړلي به یی  او که نه اوس خو دې نوم..... ماشاءالله

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de